پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل) .
---------------------------------------

# دپاکستان  بین المللی اطلاعاتی خدمات

The Pakistan Inter-Service Intelligence (ISI)

## دوهمه برخه

### د«آی اس آي» عملیاتونه اوپه نوروهیوادوکی لاس وهنه

### افغانستان کی :

کال (۱۹۸۲): د پاکستان  استخباراتی  شبکه (آي اس آي ) ، د  امریکی   د متحده ایالاتو داطلاعاتومرکزی آژانس (سی آي ای) اوداسرایل جاسوسی اواستخباراتی سازمان  (موساد) په ګډه همکاری سره هغه د  مخکینی  شوروی  اتحاد    جوړ کړی شوی سلاح  او  لیبا نی وسلی    کوم چی دفلسطین  دآزادی بخښونکی تنظیم  د پاره  په کار وړل کیده یا  چمتو شوی وه  وروسته له هغه چي اسرایل  په (۱۹۸۲)  کی  پرلبنان با ندی  یرغل  ویوړل دغه دشوروی اتحاد  جوړ کړ  شوی سلاح د اسرایل  دیرغلګرو په  لاس  کی اولویدل اووروسته بیا په ډیر مخفی بڼی سره  نوموړی سلاح  پاکستا ن ته ولیږل شو چی پاکستان د امریکی دمتحده ایالاتو داطلاعاتی خد ما تو  (سی آی ای )  په غوښتنه  وسلی ټول افغانستان ته ولیږل شو چی د مجاهدینو په  لاس کی  ولویږی  کوم  هغوی دشوروی لښکرو په مقابل کی په جنګ جګړه اخته وه ، د یاده  مو با ید ونه باسو چی  د سلاح او وسلو لیږل افغانستان ته  په پټه صورت  مونډلی  او د بلی   خوا  ځخه  همدغسی هدایت وه چي دغه موضوع باید ډیر پټ  او مخفی وسا تل شی  چی لاتراوسه مخفی  ساتل  شوی اود همدی دری جا سوسی سازمانونو له خوا نه لا  تراوسه  نه  دی افشا شوی

### کال (۱۹۸۰) :

وروستیو وختونو کی دپاکستان  استخباراتی  شبکه (آی اس آي) په دی باور  وه  چی اوسما بن لادن ته رسیدی شی دبلی خوا  ځخه   د(اي اس آي) اداره یا سازمان  دامریکی د متحده ایالاتو  کوم چی د شوروی اتحادد نظا می قطعاتو   په ایستلو کی په کال(۱۹۸۰) کی دافغانستان په ګوریلایی جګړه کی د مجاهید ینو  ځخه هراړخیز ملاتړ کول ډیر ستر نقش   ولوبول ، د امریکی د  متحده  ا یالاتو  مرکزی  استخباراتی  اجنسی (سی آی ای) دافغانستان دمخا لیفینو  اودمجاهید ینوسره هراړخیزکومکونه ترسره کړچی دغه کومکونه عبارت له  سلاح ، رزمی  مهمات ،  نقده پیسی وه   او  په ضمن  کی  د پاکستان  (آی

اس آي ) ته بشپړ واک او اختيار ورکړی وه چی د افغانستان مجاهيد ين اودهغو سره عربی ډلی ټپلی کوم چی د شورروی اتحاد پر ضد په جګړه بخت و، هغوی ته جنګی مهارتونه زده کړی يعنی هغوی ته ترينينګ ورکړی اوبيايی دجنګ دپاره افغانستان ته وليږي ، کوم چی د پاکستان دغه جهنمی استخباراتی شبکه د (۱۹۸۳-۱۹۹۷) پوری (۸۳۰۰۰) افغانی مجاهيدن ته نظامی ترينينګ ورکړ اوبيايی افغانستان ته وليږل چی دروسا نوسره وجنګيږی .دجنوبی اسيا د څيړونکوله ټولنی اوبيا دهندوستان د تنوير له اطاقونو څخه ب. رامان (B.Raman) داسی څرګندونه کوی چي (سی آی اي) د(آي اس آي ) پواسطه هيروين افغانستان ته دګلبدين حکمتيا ر د حزب دغړو اوبيا وروسته دجلال الدی حقانی دسازمان دغړو پواسطه سره قاچاق کول چی بايد روسی سرتيری په هيروين باندی معتاد شی ترڅو چي دهغوی رزمی قدرت را ټيټ شي .

## کال (۱۹۸۶): .

دلته دحيرانتيا او ديادونی وړ مطلب دادی چی دافغانستان اود شورروی اتحاد دجګړی له امله ګڼ شميرافغانان کوم چی دهغوی په مينځ کی دافغانستان داطلاعاتو دسازمان (خاد) غړی او کورنی هم شامل وه د مهاجر په صفت پاکستان ته پناه ويوړل ، په دی وخت کی دپاکستان داستخباراتی شبکه (آی اس آي) په ډير بريالی اوماهرانه توګه سره په اسلام آباد کی دافغانستان په سفارت کی منصور احمد چی دافغانستان په سفارت کی دشازدافر په حيث خپل ماموريت مخ ته وړل هغه يی د افغانستان د حکومت چی دشورروی اتحاد له خوا ملاتړ کيدل واړول يعنی هغه يی په دی متقاعد کړچی د خپل حکومت پرضد د پاکستان استخباراتی شبکی (آی اس آي ) ته هغه يو لړ مخفی راز او پوره معلومات ورکړی چی (ای اس آي) غواړی اودهغه په بدل کی (آی اس آي) په ډ ير مخفی بنی سره هغه يعنی منصوراحمد اودهغه کورنی له اسلام آباد څخه دهغه له هستوګنځی څخه په سکورت سره وويستل اود بريتانيا دهوايي شرکت په يوه مسافرتی الوتکه کی لندن ته وليږل او هلته له هغی څخه دهغه په کور کی چی مخکی د مخکی ورته په اجاره نيول شوی وه په ډير ارامی او خاطرجمعی سره يولړ مخفی او پټ رازونه کوم چی د هغی سره موجود وه تر لاسه کړ اوپه دی وجهه سره دافغانستان د (خاد دغړی ) اهداف او دکار پراګرامونه (ای اس آی ) ته بر بنډ اوڅرګند شو ، په دی وخت په اسلام آباد کی افغانی اوروسی ديپلوماتانوپه دی لټه کی ولويد چی منصور احمد شازدافر اودهغه کورنی پيدا کړی اما بی خبر له دی چی منصور احمد دخپل کورنی سره د(اي اس آي ) په کمک لندن ته ستون شوی اوهلته په ارامی سره د (ای اس آی ) تر چتر لاندی ژوند کوی .

کال (۱۹۹۴): د طالبانو رژيم په پراخه بني سره منلی اوپه وار وار سره ويلی دی

چې مونږ د پاکستان د استخباراتی شبکه (آی اس آی) او د پاکستان د اردو ملاتړ له ( «۱۹۹۴» څخه تر« ۲۰۰۱ ») پوری تل دځا نه سره لرل حال دا چی د پاکستان رسمی مقامات د طا لبا نو دغه ادعا دروغ گڼی او په کلی بڼی سره دځپل ملاتړ څخه انکار کوي ، اوبیا وروسته دپاکستان جمهور ریس جنرال پرویز مشرف اوس داسی څرگندوی چی زمونږ دولت افغانی طالبانو سره تر د« ۹/۱۱ » له پیښی څخه تر مخه هراړخیز مرسته او کمک کول ، په دی مورد کی د پاکستان او افغانستان دحالاتو کار پوه ژورنالیست اولیکوال « احمد رشید » داسی اظهارنظر کوی چی پاکستانی نظامیان له ( «۱۹۹۴ » څخه بیا تر «۱۹۹۹») پوری په تخمینی ډول سره (له 80000 څخه تر 100000 ) نفرو ته نظامی روزنه ورکړی اوبیا د جگړی د پاره افغانستان ته لیږل شوی دی چی دطالبانو په اړخ کی اوږه په اوږه د هغو سره مرسته وکړی .
د (۹/۱۱) دپیښی په تعقیب کوم چی پر متحده ایالاتو باندی دالقاعدی له خوا یرغل تر سره شو ، پا کستا نی لوړ پوړی داسی په ډاگه کړل چی زمونږ مرسته دامریکی دمتحده ایالاتو سره ضرور وه حال داچی دهمدی راز لړلید په لرلو سره بیاهم پاکستانی نظامیان او د(ای اس آی ) شبکه ځپل مرسته اوکمکونه له افغانی طالبانو څخه ونه سپمو ل اوتر دی دمه پوری جاری ساتلی دی ، د تعجب اوحیرانتیا خبره په دی کی دی چی همدغه دوه مخه پاکستا نی لوړ پوړی چارواکی افغانی طالبانو سره د ځپل مرستو انکار کوی .
کال (۲۰۰۸) : دافغانستان دملی امنیت دویاند په قول سره په کال (۲۰۰۷) کی یو شمیر تروررستان دافغانستان دحکومت له خوا دستګیر او په بند کی ولویدل کوم چی هغوی دجلال آباد په ښارکی دهندوستان قونسلگری په بم کی والوزول اوددی انفجار تر شا د (آی اس آي ) شبکه ولاړ وه کوم چی تروررستا نو ته ( ۱۲۰۰۰۰) پاکستا نی روپیی بډه ورکړی وه یعنی د («۱۲۰۰۰۰») پاکستانی کلداروپه بدل دهندوستان قونسلگری والوزول شو.
دکال (۲۰۰۱) څخه را وروسته : امریکایی رسمی چارواکی په دی باور دی چی دپاکستان استخباراتی شبکه (آی اس آی ) په قبایلی سیمو کی قبایلی شبهه نظامیانو ته په څرگند بڼی سره د ا مریکی د مزایل د تهاجم اودحملی په اړه خبرداری ورکوی داکتوبرپه میاشت کال (۲۰۰۹) کی داوید موراديان(Davood Moradian) اود دباندنیو وزارت سیاسی مشاور ښاغلی سپنتا (Spanta) وویل : دامریکی او د بریتانیا دولتونه دپاکستان داستخباراتی شبکی (ISI) له ټولو فعالیتونو اوکړنو او پلانونوڅخه پوره او بشپړ باخبر دي. اما دغه پورتنی دوه دولتونه ددی شهامت نه لری چی دپاکستان یا داسلام آباد دلوړ پوړی مقاماتو په وړاندی له ځپل ځانه څخه همت او زړه ورتیا وښيي اودپاکستان کړنه وغندي . ده یعنی «سپنتا » داسی ادعا کوی چی افغانی حکومت د امریکی

اود بریتانیا دولتونوته دافغانستان په داخلی چارو کی د پاکستان دلاس وهنی په اړه انکار نه منونکی اسناد وړاندی کړ کوم چی د(ای اس آي ) شبکه دافغنستان په هر گوډ کی د بمب گذاری مسول اودهر انفجار تر شا ولاړ دي .

کال (۲۰۱۰) : د لندن د اقتصاد د ښونځی (London School Of Economics ) د نوی راپور پربنیاد داسی یو تاید شوی اوثبوت شوی ادعا تر لاسه شوی چی دپاکستان د(ای اس آي ) شبکه ، افغانی طالبانو ته ، جنگی روزنه ، مالی مرسته ، خواړه ، هستوګن ځای اونور هراړخیز زیات کمکونه دیخوانی کمکونه په پرتله ترسره کوی د راپور وړاندی کونکی ښاغلی مات والدمن (Matt Waldman) په افغانستان کی د ننه دطالبانو نهو (۹) ساحوی قوماندانانو ته وویل چی دتاسی اړیکی دپاکستان سره له پخوا نه ډیر زیات شوی کوم چی دغو طا لبا نو دخپل مرکو په لړ کی د خپل سازمان اړیکی دپاکستان سره په ډاګه کړ اوویل چی زمونږ دکویټی په عا لی شوراکی پا کستا نی لوړ پوړی چاروکی هم غړیتوب لری اویا دناظر په صفت ونډه اخلی . . پاکستا نی مقا مات ددغه خبر نگار او راپور ورکونکی گذارش دپاکستان په وړاندی یوتخریبی عمل وګڼل اوهغه یی له بیخه رد کړ ، جنرال داوید پتریوس (General David Petraeus) په افغانستان کی دامریکی دمتحده ایالاتو مسول قوماندان دا مریکی د متحده ایالاتو کانگرس ته پخپل گذارش کی پورتنی موضوع په تا ییدی بنی سره گذارش ورکړ او زیا نه یی کړ چی دا یو مشروع چلند دی چی داطلاع دتر لاسه کولو دپاره کله ناکله ددی ضرورت هم لیدل کیږی چی سړی د بد و اود ناوړو خلکو اویا اطلاعاتی منا بعو سره اړیکی تامین کړي . نو به دی بنیاد دپاکستان د(اي اس آي ) اود افراطی ډلو ټپلو ترمینځ داړیکو تامینول یو مشروع تعامل دی اوخپل خبری له سره داسی تکرار کړ (کله ناکله سړی دی ته مجبور کیږی چی د اطلاعاتو دتر لاسه کولو دپاره دناوړو خلکو سره باید اړیکی تامین کړ شی .)

دوهم بوسنیا (Bosnia): د پاکستان استخبا راتی شبکه (آی اس آي) په بوسنیا هیرزیگوبینیا (Bosnia Herzegovina) کی د ککړو اړخونو په وژنکی جګړه کی له دی نه چی بوسننیانو د صربیا نو د یرغل په مقابل کی مقاومت وکړی دیو پروتوکول په ترڅ کی هغوی ته په کافی اندازی سره دسلاح اودجنگی وسایلو مرسته وکړ.

دریم : هندوستان : په کال (۱۹۵۰) کی دپاکستان استخباراتی شبکه (آی اس آي) دهندوستان په شما ل شرق کی دهند پر ضد دشورشیان دپاره یوه د نظامی تعلیم اوتربیی اودعملیا تونو ځانگه یا دیویژن پرانیستل.

کال (۱۹۶۰): د(۱۹۶۰ ) کال په وروستیو وختونو کی د هندوستان دسکا نو د (Home Rule Movement ) چی دهغه مقعر دلندن په ښار کی وه او د چرن سنګ پواسطه سره رهبری کیدل ، کوم چي بیا وروسته همدغه ډلی ټپلی د پاکستان داسخباراتی

شبکی (اي اس آي ) په تحریک اوملاتړ سره له هند څخه د خالصتان  په نامه د تجزیه کیدو غوښتنه دجاګیت سنګ چاون (Jagit Singh Chauen ) تر سرمشری لاندی وشو ، اوهم همدغه دپاکستان جهنمی سازمان (ای اس آی ) وه چی په اروپا ، امریکا  آو په کاندا کی دسکانو د دیازپورا (Diospora) ترنامه لاندی دسکانو ډلی ټپلی چی هغوی هم له هند څخه دخالصتان په نامه مستقل هیواد غوښتل سره یی متحد کړ.

کال (۱۹۶۹ – ۱۹۷۴) : دامریکی دمتحده ایالاتو د(سی آی ای ) اود پاکستان (آی اس آی ) وړه په وړه دریچاردنکسن داداری سره یو ځای دهندوستان په پنجاب کی د خالصتان په نامه  له هند څخه جدا دیو هیواد په جوړولو کی سره زیار ایستل کوم چی دناکامی سره مخامخ شول .


کال (۱۹۸۰): د پاکستان دهوای ځواکونود چلند اطلاعاتی او جاسوسی څانګه کوم چی دهغه مقعر په کراچي کی دی دجولای په میاشت کال (۱۹۸۹) کی یو هندی جاسوس یا مخبر ونیول ، کوم چی هغه هندی مخبر دخپل تحقیقاتو په وخت کی دهند ی جاسوسانو یوه لویه شبکه چی په کراچي کی دهند دپاره کارکول افشا کړ، دغه دستګیر شوی هندی جاسوس سربیره پرهغه چی دخپل ملګرونومونه یی افشا کړ پا کستا نی مقاماتو ته وویل چی څما ملګری سربیره پر مخبری  هڅه کول چی دپاکستان څنی سر شنا س نظامیان ترور او مسموم کړی ،دغه جاسوس په ډاګه کړ چی ددی امر د پلی کولو د پاره  په کراچي کی دانترکانتینانتال دهوټل دمینجر پواسطه سره ترسره کیده یعنی هغه د نظامیان او دمیلمنو په خواړه کی باید زهر واچوی او په دی بنیاد سره دپاکستان دهوايي ځواک د سرشناسو منسوبینو نومونه چی باید په زهر سره مسموم شی په یوه لست کی ځای په ځای شوی یا لیکل شوی وه . په دی وخت کی دپاکستان (آی اس آي) په دی لټه کی وښو تر څو په ډیر ژور بڼی سره وڅیړی چی دغه د هوټل مینیجر د چا سره اړیک لری اویا څوک هغه دی کار ته هڅولی دي اما مخکی له هر څه نه د پا کستان جمهور ریس ضیا والحق هدایت ورکړ چی دهوټل مینجر اودهغه سره تړلی اشخاص زر په بند کی واچول شی ، لاکن وروسته دڅیړنو او تحقیقات څخه داسی را څرګند شو چی د هوټل مینیجر اودهغه سره تړلی اشخاص ټول بی ګناه وه .

کال (۱۹۸۳):ایلام الدین چی دایلمو (Ilmo) په نوم سره هم یا ید له ، یو ډیر مشهور بد نام هندی جاسوس له پاکستان څخه وه ، ایلمو له یاده ایستلی وه چی دپاکستانی مقاماتو له خوا څو واری نیول شوی اوبیرته خوشی شوی دی ، اما هغه داځلی دخپل دوه نور اندیوالانو سره دمارچ په(۲۳) د پاکستان د آزادی په ورځ ددری بجو مخکی د غرمی څخه له دی نه چی په غیر قانوني بڼی سره دهند له سرحده پاکستان ته اغوښتی وه ونیول شو اوپه بند یخانه کی واچول شو ، دهغوی ماموریت داوه چی دپاکستان دآزادی په ورځ (مارچ ۲۳)کی هغه نوی رزمی سلاح اومهمات کوم چی د ننداره چیانو له مخ په

پریټ کی  تیریږی معلومات تر لاسه کړی اوبیا په هند کی خپل اړین اداری  ته ولیږي ،
وروسته له هغه چی ایلمو دخپل دوه نورو انډیوالانو سره دپاکستان د پولیسو  په لاس کی
ولویدل ، هغوی د (اي اس آی ) دتحقیق دهییت  له خوا تر فشار لاندی ولویدل چی دهند
د  څیړنیز اود تحلیل دځانګی (R and AW) په ادرس یولړ ساختګی او  غلط  معلومت د
تحقیق هییت ته ورکړي  ، دغه جریان دوام وکړ اودهغه په پای کی ډیری خلک د  هندی
جاسوسا نو په نا مه   له پاکستان څخه وویستل شو لکه  روپ لال (Roop Lal) .

کال (۱۹۸۴) : د پا کستا ن د استخباراتی شبکی (آی اس آي )  په قول ، هغوی  یوه
مخفی معامله اوتړون کشف کړکوم چی دهند لمړی وزیره اندرا ګاندي په اندراپرد یش ،
اود  اندامن (Andaman) اونیکوبار(Nicobar) په جزیروکی شوروی اتحاد ته  بحری
بند رګاه  ورکړی یا دهغوپه اختیار کی اچولی دي  او همد ار نګه داسی تهمت ولګول شو
چی دکابی جی (KGB)مشاوردجنرال سوندرجی(Sunderji)سره په دایمی تماس اوارتباط
کی قرارلری یعنی هغه جنرال سره چی دجون په  میاشت  کال (۱۹۸۴)  په   امریتسا ر
(Amritsar)کی دآبی ستوری عملیات په طلایی معبد کی ترسره کړ  .

کال (۱۹۸۴): د پا کستا ن استخباراتی شبکه (آی اس آی) ونتوانید چی دبریتانیا د یوی
کمپنی هغه پره دار (دندانه دار څرخ ) څرخ   په مناسب ډول سره وڅیړی اویا یي په بنه
شان سره په کار واچوی کوم چی دشمال قطب  آب وهوا رامعلوموی  او دپاکستان داردو
دپاره لازم بریښیده چی  له هغه څخه باید  کا ر اخیستی  وای لکه  چی  نوموړی  کمپنی
همدغه وسیله دهند داردو په اختیار کی اچولی او دهند  اردو له  هغه څخه  وخت ناوخت
په پراخه توګه سره  کاراخلی ، کله  چی پاکستان  په کال (۱۹۸۴)  کی  هڅه  وکړ  چی
سایشن کلازیر  (Siachen Glacier) نوکه خوندی وسا تی   نوهغه وخت په دی پوه شو



چی هغه ساما ن یا پرده دارخرخ ته ضرورت لیدل کیږی کوم چی هندوستان له هغه ځخه ګټه اخلی ، په دی وخت کی هندوستان پاکستان ته خبرداری ورکړ چی دنوموړی پره دار خرڅ له پیریدلو ځخه ډډه وکړی اوهغه داچي هندوستان نه غوښتل چی پاکستان د سایشن ګلایسر ( Siachen Glacier دغه نوکه یا قله کوم چی په پورتنی نقشه کی لیدل کیږی هغه منطقه دیچی دهمالیا دغره په اړخ کی دقراقرومیه ختیځ برخه بروت دی چی دهند اودپاکستان تر مینځ یوه کنترولی سیمه ګڼل کیږي ) نوکه ترخپل ولکی لاندی راولی او له دی وجهی ځخه دهندوستان عملیا تی میګد وت( Meghdoot دهندوستان داردو کودنمبر دی ) په دیرچټکی سره ځا نګړی عملیا ت د نوموړی نقطی د نیولو دپاره تر سره کړ اوهغه نوکه ترخپل ولکی لاندی راوست .

کال (۱۹۸۸):د پاکستان استخباراتی شبکه دخپل ملیشای نظامیانو دحما یی اودسا تنی په منظور دهندی مقاماتو سره دکشمیر په جګړه کی له دری خواو ځخه ګوریلای یرغل ته سازمان ورکړ ، دغه پلان دجنرال ضیاوالحق پواسطه سره په کال (۱۹۸۸) کی تدوین شو کوم چی پاکستان د جبیرالتار (Gibraltar operation) په عملیا تو کی پا تی راغی وروسته ددی ګوریلای جګړی له بریالیتوب ځخه ، پاکستانیانو دخپل ملیشای ساتنی دپاره دغه عملیات دخپل دولتی پالیسی په نوم ونومول او (اي اس آي) په پراخه پیمانی سره په دی باورمند وګرځید چی هغوی دهمدی پالیسی په تعقیب سره کولای شی خپل ملیشای نظامیان د کشمیر په سیمه کی خوندی وساتي .

## خلورم : اسرایل :

کال (۱۹۸۰): اسرایل سره تل دا ډار او ویره موجود دی چی هر یو اتومی سلاح لرونکی اسلامی هیواد د هغه موجودیت دګواښ سره مخامخ کوی ، اودا ځکه چي اسرایل پخپله داتومی سلاح خیښتن دي ، اودهمدی دلیل په نظر کی نیولو سره د عراق اتومی سلاح د اوپرا (Opera) د عملیا تو په سرته رسولو سره او د سوریی اتومی تا سیسات د اورچارډ (Orchard)د عملیات په اجرا سره دړی وړی کړ اوله مینځه ویوړل ، همدارنګه اسرایل په ورته بنې سره غوښتل چی په کال (۱۹۸۰) کی دهدوستان په مرسته سره د پاکستان هستوی سلاح د مینځه ویوسی اما له دی نه چي هندوستان دځپل تعهد ځخه واغوښتل نو داسرایل هد ف ترسره نشو ، هندوستان په دی دلیل دمرستی ځخه ډډه وکړ چی که چیری د پا کستا ن اتومی سلاح په یوه ځمکنی یرغل سره دمینځه ویوړل شی شا ید چی دهغه تخریبی اغیزی په سیمه کی ناوړو لاسته راوړنی سره مل وی .

کال (۲۰۰۲): دتایم دمجلی دلیکنی پر بنیاد فرانسوی کارپوه او روشنفکر بناغلی بیرنارد هنری لیبی (Bernard-Henri Levy) داسی څرګند کړ چي دانیل پیریل

(Daniel Pearl) امریکایی الاصل اسرایلي دپhکستان اودالقاعدی په ګډه جاسوسی مرستی سره په قتل رسید لی دي .

## پنځم پخپله پاکستا ن :

دپاکستان استخباراتی شبکه (اي اس آي) له دی نه چی دمهرن بانک په افتضاح کی چی د مهرن ګیت (Mehrangate) په قضیي سره نومول شوی دلاس په لرلو سره ګرم وبلل شو اوداځکه چی دبانک څیښتن ته چی یونس حبیب نومیری د(اي اس آي ) دیوی لوړ پوړی چارواکی له خوا په ډیر بی شرمی سره یومقدار پیسی ورکړ شو چی هغه پیسی د(ای اس اي) دذخایر اسعار خارجی په نوم زیرمه کړی.

کال (۱۹۸۰) . دپاکستان استخباراتی شبکه (آی اس آي ) دپاکستان دجمهور ریس جنرال ضیاوالحق دوژل کیدو له قضیي نه بلکل باخبر او پوه وه او له دی نه چی دغه موضوع دپاکستان دموجوده اسلامی حکومت پر غاړه واچوی نو په یوه خونین کود تا با ندی لاس پوری کړ دغه کود تا اود پاکستان دجمهور ریس جنرال ضیا والحق وژنه دمارچ په (۲۳) کال (۱۹۸۰) کی چی دپاکستان د پریټ اود د آزادی دورخ سره سر خوری ترسره شو ، دغه کود تا د میجر جنرال تاجامال حسین ملیک( General Tajammal Hussain Malik) تر سرمشری ترسره شو چی په هغه کی یوشمیر لوړ رتبه نظامی او اطلاعاتی افسران لکه ،دملک حسین ځوی ، کپتان نوید( Captan Naveed ) اودهغه لمسی میجر رایض(Raiz) مخکینی اطلاعاتی نظا می افسر لاس درلودل .(آی اس آي ) د دی نیول شوی کود تاچیا نوپه وړاندی ښکا ره تصمیم ونیول اوهغوی سره دیو شمیر نور نظامی عا لی رتبه افسران په بند محکوم کړ اوله دی نه چی دغه کسان دکودتا تر شا د ډیرنور ژورو دسیسیو اود توطییو نه بی خبر وه هغوی د (آي اس آي ) له خوا په بندی خا نه کی تر ډیر شد ید نظارت لاندی ونیول شو چی موضوع دباندی افشا اورسوا نشي .

کال (۱۹۸۵): د(آي اس آي) داخلی سیاسی دویژن یا څانګه دپاکستان دخلکو دګوند (PPP) دیوشمیر غړو له طرفه دمرتضی بوټو د بینظیر بوټو دد وو ورونو څخه یو ورور د وژل کید و په اړه تر نیوکی لاندی پریوت کوم چی د(۱۹۸۵) کال په اواسطو کی په فرنچ ریبیریا(French Riviera) کی مسموم شوی وه ، دبینظیر بوټو هڅه په دی کی وه چی خپل متوفی ورور دضیاوالحق د نظامی حکومت څخه وداروی چی بیرته پاکستان ته ستون نشی ترڅو چی ددی نظامی حکومت په لاس کی ونه ولویږی ، اما دپاکستان (آی اس آي ) ونتوانید ل چی دغه موضوع روښانه کړي یعنی دمرتضی بوټو دوژل کیدو عوامل وښیی.

کال (۱۹۸۷):د پاکستا ن استخبارا تی شبکه (آي اس آي ) ونتوانید ل چی د خاد/کی

جی بی (KHAD/KGB) هغه ترورېستی اقدام شنډ کړی چی دهغه په ترڅ کی په کال (۱۹۸۷) کی (۳۲۴) پاکستا نیان ووژل شو .

کال (۱۹۸۸): دپاکستان استخباراتی شبکه ونتوانيدل چی د پاکستان جمهور رئیس ضیاوالحق د ترور پلان څخه مخنیوی وکړی کوم چی هغه نژدی بهاولپول ته د( C-130 Hercules) الوتکی په تصادم او نسکوريدو سره ووژل شو اوپه اغلب گمان سره داسی آوازیاوګونګوسی پورته شو چی دهغی د الوتاکی تصادم اويا سقوط د خاد اود کی جی بی (KHAD/KGB) په ګډه عملیات کی تر سره شوی وه .

کال (۱۹۹۰): د پاکستان استخبارا تی شبکه (آی اس آي ) له (۱۹۵۰ ) څخه لاتراوسه دپاکستان په داخلی یا کورنی پالیسی کی ډير اوږد لاس لری مثلاْ دبیلګی په بڼه کولای شو چي د پاکستان د (۱۹۹۰) کال له ټولټاکنی څخه دلته یاد کړو او هغه داچی (اي اس آي) داسلامی جمهوری اتحاد (IJI)دګوند په پلوی وه کوم چی هغه ګوند د (۹) نورو پاکستا نی بنی لاسو ګوندونه یواختلاط وه اود جنرال حمید گل تر مشری لاندی فعالیت کول او په انتخا با تو کی د پا کستا ن دخلکو د ګوند په ضد انتخا با تی مبارزه کول.

کال اوسنی (۲۰۰۰) : (آي اس آي ) دپاکستان د نظا میانو سره په ګډه او په نه ستړی کیدونکی بنی سره د پا کستان په شما ل غرب کی د تحریک طالبان پاکستانی (TTP) پرضد په جګړه کی ونډه ا خیستی او لاتراوسه ونډه اخلی کوم چی (آی اس آي ) په دغه روانه جګړه کی خپل (۷۸) پرسونل دلاسه ورکړ چی دهغه په مینځ کی مشهور اونامی غړی خا لد کاواجا(Khalid Khawaja) او کلونل امام څخه نوم اخیستی شو .

کال دوه زرم : د پاکستان اسخباراتی شبکه (آی اس آي ) په بلوجستا ن کی د هغو بغاوت کونکی په ځپلو کی اوږد لاس لرل کوم چی هغوی له پاکستان څخه غوښتل بیل او آزاد شی ، له بلی خوا څخه په دی تازه وختونو کی د پاکستان شبهه نظامیان هغو کڼ شمیر خلکو کوم چی بلوچ نه دی اونه غواړی چی سره بیل شی گرم ګڼي نو په دی وجهه سره دهمدی شخړی په دوام کی ، دجولای د (۲۰۱۰) څخه تر د جولای دمیاشتی کال (۲۰۱۱) پوری تقریباْ (۲۰۰) مړی میندل شوی چی دهغو په جسدونو کی دشکنجی اودهغو په ککړو کی دمرميو دډزو نښی او نښانی ولیدل شو چی په دی اړين د نړی دیده بان حقوق بشر (Human Right Watch) په یوه خبری نا سته کی د پاکستا ن (آی اس آي ) ګرم وګڼل اوددی موضوع په ارتباط د ملا متی پړي د (آی اس آي ) پرغاړه واچول چی ولی پخپل دنده کی بی پروایی کړی اوددی (۲۰۰) مړو د عا میلینو په پيژند نه کی پا تي راغلی. له بلی خوا څخه ایا لتی حکومتی چاروا کی وایی چی مونږ هڅه کوو چی قانون پلی کړو او د کتلوی وژنو څخه کوم چی د شورشیا نو

اود بغاوت کونکو ډلو ټپلو له طرفه صورت نیسی د هغه ځخه مخنیوی وکړو . نو ددی هدف دتر لاسه کول د پا ره مونږ تقریباً (۹۸۵) نفر د (۸۷۵) واقعاتو دارزیا بی په نتیجه په بند محکوم کړ چی هر یو د دوی بیل جرمونه درلودل ، نواب اکبر بګتی (Nawab Akbar Bugti ) په یوه عملیاتی نیونو کی کوم چی دپاکستان له طرفه دهغه دسا تونکو سره په جګړه کی ووژل شو د دی لوبی اویا ددی عملیات سناریو د پاکستان د (اي اس آي ) له طرفه پلان شوی وه یعنی چی دهغه په مړنه کی (اي اس آي ) انکار نه منونکی لاس درلود .

کال (۲۰۱۱): پنځه پاکستا نیا نو چی دامریکی د(سی آی ای) دپاره جاسوسی کول یا هغه اژانس ته د اوسامه بن لادن د مړنی په مورد کی معلومات برابرول د (آی اس اي ) دمقا ما تو په هدایت سره په بندی خا نه کی واچول شول، دامریکی د متحده ایالاتو اطلاعاتی آژانس (سی آی اي) د داکتر شکیل افریدی (Dr.Shakil Afridi) کوم چی هغه دبن الادن د مړی په هکله نوموړی آژانس ته راپورونه برابول اود پاکستان د (ای اس آي ) له خوا په (۳۳) کاله بند محکوم او بندی شوه ډیر هڅه وکړ چی هغه له بند ځخه آزاد کړی .

## شپږم : لیبیا :

کال (۱۹۷۸): د پاکستان (آی اس آي ) د کلونیل حسین امام مبروک ( Colonel Hussain Imam Mabruk) کوړ په اسلام آباد کی چی د لیبیا په سفارت کی دخپل هیواد دشازدافیر په صفت کار کول د هغو ځرګندونو په ترڅ کی چی هغه د ضیا والحق نظامی رژیم ته سپک اوسپیری ویلی وه اویا پرنوموړی نطامی رژیم باندی نیوکی کړی وه تر ژوړ کتنی اود استخباراتی معلوماتو تر هنداره لاندی پریوت ، د (آي اس آي ) مخبر هغه وخت دی موضوع ته پام واړول اویا موضوع ته ځیرشو کله چی دنوموړی شاژدافر له هستوګنځی ځخه دوه مشکوک پاکستا نیا ن راوتل ، وروسته له هغه چی دپاکستان (آی اس اي ) ددی دوه مشکوکو پاکستانیانو په اړه ارزیابی او ځیرنه وکړ (ای اس آی ) ته داسي ځرګند شو چی دغه دوه پاکستا نیا ن تبعید شوی اود بوټو له پلو یا نو ځخه وه ، اودوی په لیبیا کی تروریستی زده کړی کړی وه او غوښتل چی د پاکستان نظامی رژیم ته ستونزی خلق کړی او هم د رژیم سرشنا س او لوړ پوړی چاروا کی ترور کړی ، نو له هرځه نه مخکی پا کستا نی اسخباراتی شبکه په دی بریالی شو چی تروریستان مخکی دهغه چی کوم ورانی اوتخریب ته لاس پوری کړی ونیول شو اوپه بند یخانه کی واچول شول ..

کال (۱۹۸۱):په کال (۱۹۸۱) کی دلیبیا یو امنیتی شرکت دال مرتضی دانجمن په نامه () پاکستان ته دمخکینی سرتیرو او خدمتګذارانو یوه ګروپ اوپرسونل ولیږل

يعنی امنيتی مامورينو هغه ماهران کوم چی په ليبيا کی دامنيت په چارو کی د تجربی خاوندان وه او امنيتی دندو ته ډير پام لرل ، ليبيا دغه تجربه له ډير پخوا څخه درلود خصوصاً هغه وخت چی ليبيا د خپل دوه ګاونډ يا نو (مصر اوچاد) سره ځنی سرحدی منازعی لرل ، نو د سرحدی منازعی د حل د پاره همدعسی مجرب پرسونل خپل سرحدونو کی ځای پر ځای کړ ، اما کله چی پا کستان دليبيا په دی پلان باندی پوهاوی تر لاسه کړ نو دپروګرام د تحقق په لاره کی خنډ شو اواجازه ورنکړ چی پروګرام دعمل جامه واغوندي . ( تا سی کولای شی چی « CIA drug trafficking/ soviet Afghanistan , CIA transnational anti-crim and anti- drug activities/ southwest Asia, operation Cyclone. Badaber Uprising.» ) مراجعه وکړی.

## اوم : ايران :

تاسی کولای شی چی دامريکی دمتحده ايالاتو دجاسوسی اوداطلاعاتی خدماتو (ی‌ی آي ای ) فعاليتونه په نژدی ختيځ ، داسيا په جنوبی ،جنوب غربی اوايران کی وګوری .

**کال (۱۹۷۹)** : هغه وخت چی امريکايانو دعقاب دمنګلو دعمليات تر نامه لاندی ونشو کړلی چی عمليات په بريالی توګه سره ترسره کړی نو په دی وخت کی دامريکی دمتحده ايالاتو ډله ايز رسنی لکه نيوز ويک (Newsweek) او ټايم ( Time) داسی راپور خپور کړل : د (سی آی اي ) جاسوسان کوم چی په تهران کی ځای په ځای شوی وه هغوی د هغه پا کستا ني آشپز (پخوونکی) څخه کوم چی هغه په تهران کی دامريکی دمتحده ايالاتو په سفارت کی د نده ترسره کول يولړ معلومات د امريکايي يرغملو په اړه تر لاسه کړی ، اما کله چی ددی موضوع څخه د(آی اس آي ) مقامات اطلاع تر لاسه کړ ، سمد ستی دپا کستانی آشپز اود (سی آی ای ) د مخبرانو ترمينځ اړيکی وشلول او ټول لاسته راغلی شواهد يی دايران مقاماتو ته وسپارل چی ورو سته په دی مورد کی دايران داطلاعاتو مشر په يوه خبری نا سته کی داسی وويل : (غټ ابليس او غټ درواغ ).

## اتم : فرانسه :

**کال (۱۹۷۹):** د پاکستا ن استخبا راتی شبکه (آی اس آي ) په اسلام آباد کی د دجولای په (۲۶) کال ( ۱۹۷۹) کی د کا هوتو ريسرچ ( Kahutu Research Laboratories) په نامه يوه پيچلی هستوی لابراتوار کی دفرانسی سفير شاغلی ( Le Gorrierce) اودهغه سفارت لمړی سکرتر ښاغلی ( Jean Forlot ) پواسطه سره چی پرهغه لابراتوار با ندي يوه نظارتی ما موريت تر سره کول کشف او هغه دواړه فرانسوی د ډيپلوما تا ن يی په بندی محکوم کړ ،دهغو نه کمره اوځنی نور اسناد ضبط

کړاومصادره کړ ، وروستنی ځیرنی چی د (آی اس آي) دموظفینو له خوا تر سره شو داسی څرګند شو چی دغه دواړه فرانسوی دیپلوماتان د (CIA) له خوا په دغه ماموریت موظف شوی وه .

## نهم : شوروی اتحاد او اوسنی روسیه :

کال ( ۱۹۸۰ ) : (آي اس آي ) په اسلام اباد کی د شوروی اتحاد په سفارت کی د جاسوسی یو اله چي مول (Mole) نومیږی ځای په ځای کړی وه ، نوموړی اله داسی یو راپور ضبط کړی وه چی د دی سفارت دریم سکرتر دقراقروم دلویی لاری په اړین یولړ معلومات د شمال موتور ترانسپورت شرکت ( Northern Motor Transport Company) د یو مینځګړی استخدام شوی نفر (آیاز خان ) په مرسته سره تر لاسه کول ، ایاز خان پهدغه جاسوسی کی افشا شو (آي اس آي ) د(آیاز خان ) څخه داسی اعتراف تر لاس کړ : اوهغه داچی څو میاشتی دمخه دشوروی اتحاد دغه دیپلومات هغه ته نژدی شوی اوهغه يي ګواښ کړی وه که چیری هغه خبری چی ځما اوتا سره پت پاتی دی افشا شی نه یواځی تاته بلکه ستا کورنی ته به هم تاوان ورسیږی، راپور داسی وه چی د قراقروم په لوی لار کی پلونه ، چینایی کارګران اود هغو استوګنځی او ټول ورځنی فعالیتونه ثبت شوی وه اوددی دیبلومات په اختیار کی ولویدلي وه ، (آی اس آي ) په عوض ددی چی دنوموړی دیپلومات سره مقابله وکړی آیاز خان ته دنده ور وسپارل چی دغه دیپلومات ته ترهغه چي وسه کیږی غلط راپور ورکړی ، دغه روند تر هغه وخته پوری دوام وکړ چي نوموړی دیپلوات پخپله قانع او پوه شو چی دغه لاسته راغلی را پورونه له سره ټول غلط دی اوهغه یی دیو نامطمین منبع په شکل وګڼل .

کال (۱۹۹۱-۱۹۹۳): میجور جنرال سلطان حبیب کوم چی هغه د (آي اس اي ) دمتفرقه دیپارتمنت دعملیاتونو مسول جنرال وه ، هغه په بریا لی شکل سره د (۱۹۹۱-۱۹۹۳) کاللونو په موده کی ځنی هستوی مواد په مسکو کی د پاکستان د سفارت دفاعی آتشی ته دپُست دلاری لیږدول اوپه عین زمان کی ځنی د هستوی نور اضافی مواد دمرکزی اسیا له جمهوریتونو ، پولیند ، اوله پخوانی چکوسلواکیا څخه هم تر لاسه کړی وه، اوهمدغه جنرا دشمالی کوریا د مزایلو له ماهرانو سره ګډه همکاری درلوده کوم چی دهمدی ارتباطاتو په نظر کی نیولو سره داسی شرایط یی چمتو کړ چی دپاکستان یوشمیر نظامیان دمزایلو تخنیک له شما لی کاریوهانو څخه زده کړي ، دغه دوه پورتنی پروګرامونه دپاکستان داتومی اوهستوی سلاح ته اودمزایلو تخنیک ته لا پسی د ودی اودپرمختګ شرایط چمتو کړل.

## لسم : دامریکی متحده ایالات سره :

**کال (۱۹۸۰)** :د پاکستان (آی اس آي) په کال (۱۹۸۰) کی دافغان – اوشوروی اتحاد د جنګ اوجګړی په موده کی په ډیر بریا لیتوب سره د سلاحو اود جنګی مهماتو د دوه خصوصی امریکایی تجارانو اومعامله ګرانو سره اړیکی تامین کړ ، یو ددی امریکایانو څخه یو امریکایی دیپلومات وه چی د خپل هویت دافشا اودخپل نوم داخیستو څخه ډډه وکړ هغه کس وه چی په اسلام آباد کی د ( F-7/4 ) په سیمه یا ناحیه کی هستوګنه لرل ، اوهغه د(آی اس آي ) تر بشپړ څارنی اوتعقیب لاندی وه کوم چی هغه دراولپنډی په ډیرو محقرو برخو کی د خپل دیپلوماتیکی نمبر پلیت موتر سره دقبایلو دځنو ګروپونو سره تماس نیول اوهغو ته سلاح اوجنګي مهامات ورکول چی باید افغانستان ته واوړی اودشوروی لښکرو په مقابل کی وجنګیږي ،. د سلاحو او د جنګی مهماتو بل بل امریکایی تجار اومعامله ګر ایوګن کلیګ(Eugene Clegg) نومیده اود امریکی په بین المللی ښونځی کی ښونکی وه اودغه ښونکی کوم چی دنوموړی ښونځی له خوا استخدام شوی وه هغه هم قبایلی ګروپونه ته سلاح اوجنګی مهمات برابرول چی د ښاغلی نعیم د (آی اس اي )داجنت تر څارنی او تر تعقیب لاندی تر هغه چی د هغه دسلاحو بار له ګمرک څخه تصفیه شي وه چی دغه ټول پیښی او حوادث بی له تجارت او بیسنس څخه نور څه نه دی چی پر هغه باندی نوم کیښودل شي .

**کال (۲۰۰۰)** :ځنی لیکوال داسی څرګندونه کوی چي (آی اس آی ) دشیخ احمد عمر سید له زندان څخه په خوشی کولو او آزادولو کی لوی لاس لرل کوم چی بیا هغه دوال ستریت ژورنال خبرنګار ښاغلی دانیل پریل په قتل ورسول .

**کال دوه زرم** : دپا کستان (آی اس آي ) د امریکی د متحده ایالاتو پر(سی آی اي ) با ندي په دی بدګمان شول او هغه داچی دغه امریکایی اطلاعاتی آژانس هڅه کوی چی دپاکستان پراتومی سلاح باندي دنظارت لاس رسی تر لاسه کړی اود هغه د له مینځه وړلو د پاره په قبایلی سیمو کی کوم چی هلته دقانون څخه اطاعت نه کیږی لاس پیداکړی چی دهغو سره په ګډه دپاکستان اتومی سلاح له مینځه ویسی نو (آي اس آي ) د همدی شک اوتردید په لرلو سره د(سی آی اي ) ټول اطلاعاتی عملیاتونه کوم چی په پاکستان اوافغانستان کی تر سره کوی تر خپل ضد اطلاعاتی هنداری لاندی نیولی دی کوم چی دپاکستان ستر درستیز اشفق پرړیزط کیانی هم په یوه خبری ناسته کی په ډاګه کړ چی امریکایان غواړی چی دپاکستان زروی اواتومی سلاح دمینځه ویسی ، اوپه همدی بهانه سره دلته په جنګ اوجګړه کی بخت دي .

کال (۲۰۱۱) : د(سی آي اي) دمخبر رایموندډابیس(Raymond Davis) د ډزو اوتیراندازی څخه وروسته د پاکستان (آی اس اي ) په پاکستان کی د (سی آی ای ) پرجاسوسی شبکه باندی زیات بدګمان شو او د حالاتو د څارنی په لټه کی د تیارسی په حال راغی کوم چی دهمدی بد ګما نی په نتیجه کی د(سی ای ای ) اود (آی اس آي ) په ګډ اومشترک همکاری کی هم یو څخه ستونزی او ګډوډی را مینځته شو، د پاکستان د(آی اس آی ) موظفین په پاکستان کی د امریکا یا نو د جاسوسی کم ترکمه تر (۳۰) عملیاتونه کشف کړ چی دهغو له جملی څخه یواځی دولس عملیاتونه دپاکستان څخه په دباندہ کی تر سره شوی .

کال (۲۰۱۱) : داسی باور تر لاسه شوی چی یوه چینای ښځه کوم چی هغه ممکن د (آی اس آی ) اجنت یامخبر اوسی ، یعنی هغه ښځه چی په یو امریکایی فابریکی کی د چینایانود یونټ سرمشری کوی په دی متهم شوی چی هغه دپاکستان دهستوی سلاح په حفظ المراقبت کی په غیر قانونی بڼی سره یولړ اجرات اوکړنی ترسره کوي ، خانګ ونګ (Xan Wang) د شانها د پینټنګ (رنګ) د تجارت (PPG) پخوانی مد یر اوپه امریکی کی دچین دفرعی شرکتونو درنګ دصنعت پر (PPG) پوری تړلی په دی تورن شو چی هغه دبین المللی عاجل اقتصادی قدرت دشخړی اودخشونت په لمن وهلو کی لوی لاس لری اوډښمنا نه چلن کوي ، ونګ په دی هم تورن شوی چی هغه د په صادرولو اوبیا له سره د صادرولو په توطیو اودسیسو کی لاس لری اوبیا په ځانګړی بڼی سره دپاکستان داتومی نیروګاه دآپوکسی ( یوډول سریښناک رنګ دی چی د سوریو مخ بندوی اود هرډول بیرون فشار په مقابل کی مقاومت لری ) په مواد و سره د کشما ( سوری یا خالیګاه یا فاصله ) !! ، دیوښلو په طرح او ډیزاین کی هم زیدخل ګڼل شوی سربیره پرهغه وینګ اودهغه ددسیو اودتوطیو نورملګری په دی سره توافق لری چی هغوی د اپوکسی پواسطه سره دسوریو دتړلو دموادو په صادرولو او بیا له سره صادرولو کی له امریکی څخه پاکستان ته لاس لری اوبیا له پاکستان څخه ددریم ګروپ عناصرو پواسطه سره دچین جمهوریت ته دهغه موادو توزیع کول اویا لیږدول .

کال (۲۰۱۳) : دپاکستان (آی اس آي ) د محمد تسلیم د کړونو په اړین په نیو یارک کی دپاکستان په قونسلګری کی چی دامریکی د داخلی پولیسو (FBI) له طرفه هغه ددی دپاره چی دپاکستان پرضد په بد ویلو تر تعقیب لاندی وه پیدا کړ ، او دهمدی امریکایی پولیسو په واسطه سره هغه ته خبرداری ورکړ شو چی نور د پا کستان پرضد خبری ونکړي ،دامریکی امنیتی مسولین ،پاکستانی ژورنالیستا ن اودپاکستان طرفداران وایی چی (آی اس آي ) په سیستیمیک بڼی سره دهغو په مقابل کی مبارزه کوی کوم چی دپاکستان نظامیان تر نیوکی لاندی نیسی اویا پاکستا نی نظامیانو ته بد وایي.

ځما له نظره د(آي اس آي ) پيژند نه : دغه جاسوسی شبکه دپاکستان ددولت په مينځ کی يوغيرمشروع ، دروغجن ، چلوټه باز ، منافق ، تروريست ، اود عقل خوړلی ، ناپوهو متقاعدو سړی وژونکو پاکستا نی جنرالانو دډلو ټپلو يو سازمان يا دناراوا نظامی افسرانو يواړه يا باشګاه دی چی دهغوی کړنه او ورځنی فعاليتونه دهر ډول انسانی معيارونو څخه تش دی ، د دی د ستګاه يا د دی تروريستی باند کړنه له تذوير څخه ډک دی ، دغه باند له يوی خوا د پاکستان داسلامی دولت د ممثلينو په توګه داسلام اوداسلاميت دعوی کوی اوپه دی وجهه د اسلام له نړی څخه تروريستان ، افراطی ، سړی وژونکی افراطی بی فرهنګ ، غل ، ناروا مسلمانانو ته بلنه ورکوی چي پاکستان ته دی راشی او د کافرانو سره په جهاد کی ز مونږ سره ونډه واخلی چی دهغه روښا نه بيلګه داوسما بن لادن اودهغه د تروريست باند نور ملګری وه چی دافغانستان پر ضد يی جګړی ته واستول ، اوبيا دبلی خوا څخه غرب يعنی د هغوی په اصطلاح «کافرانو ته وايی) چی که مونږ سره اقتصا دی مرستی کويی مونږ تاسو ته افراطی مسلمانان چی د لته زمونږ په وطن کی ميشته دی درسپارو يعنی په عا ميا نه ادبيات کی هم په ميخ وهی اوهم په نعل : د بيلګی په صورت دغه لاند نی اشخاص د(اي اس آي ) په مرسته سره غرب اوبيا په ځانګړی ډول امريکی ته سپارل شوی دي :

۱- رمزی يوسف : هغه چا چی دنړی په تجارتی مرکز کی په کال (۱۹۹۳) د بمب اينښودو پلان طرح کړي وه اوپه اسلام آباد کی ميشته وه . ( داچی ولی دغه تروررست په اسلام آباد کی ژوند کاوه ، بايد د «آی اس آي » څخه پوښتنه اوشی ).

۲- ابن ال شيخ ال ليبی(Ibn al –shaykh al-Libi) : ليبيايي القاعدی پوری تړلی له پاکستان څخه دافغانستان جګړی ته استول وروسته دطالبانو له نسکوريدو څخه .د(ای اس آي ) له طرفه رانيونه او امريکی ته تسليول .

۳- شيخ احمد عمر سيد : په بريتانيا کی زيږيدلی هغه کس چی په پاکستان کی ژوند کاوه اود بيرل (Pearl) دوال ستريت ژورنال خبر نګار په تښتونه کی ککړ اومسول په لاهور کی دفبروری په (۱۲) کال (۲۰۰۲) د(آی اس آي ) پواسطه سره نيول کيو اوبيا غرب ته سپارل کيږي .

۴- ابو زوبيده (Abu Zubaydah) : القاعدی پوری تړلی اود پيښو اودشخړو يو غټ طراح اوپلان جوړونکی کوم چی هغه په کال (۲۰۰۰) کی احمد رسام امريکی ته وليږل چی دلاس انجلس هوای ډګر والوزوي هغه کس وه چی دپاکستان په فيصل آباد کی ژوند کول دمارچ په (۲۸) کال (۲۰۰۲) کی ونيول شو اوغرب ته د (آی اس آی ) له خوا وسپارل شو .

۵- رمزی بن ال شيب(Ramzi bin al- shibh) : د القاعدی پوری تړلی

تروورسیت د «۹/۱۱» دپیښی طراح اوپلان جوړونکی ، یعنی هغه کس چی دپاکستان په کراچی کی ژوند کول ، د(ای اس آی ) پواسطه سره ونیول شو او امریکی ته وسبارل شو .

۶- خالد شیخ محمد : هغه کس چی نه یواځی د (۹/۱۱) دپیښي اصلی طراح وه بلکه هغه ډیر نور پلنونه جوړ کړی او په مختلفو ځایونو کی دهغه پوری تړلی غړی بمونه اینښی دی او زیات ځایونه په بمب الوزلی دی لکه د نړی تجارتی بانک او ...... دغه سړی دپاکستان په راولپنډی کی ژوند کول ، چی وروسته دستګیر اوامریکی ته وسپارل شو

۷- ابو براج فراج ال لیبی(Abu Faraj Faraj al - liby): دپرویز مشرف دوژلو په هڅه کی دوه ځلی ناکام تروریست په پاکستان کی دستګیر شو .

۸- مولوی عمر : دبیت الله المسعود مشاور په کال (۲۰۰۹) کی د(آی اس آي ) پواسطه سره دستګیرشو .

۹- عبدالغنی برادر: د افغانی طابانو قوماندان دپاکستان اودامریکی په ګډه عملیات کی په پاکستان کی دستګر شو او په بند کی وساتل شو اوتر اخره پوری افغانی لوری ته ونه سپارل شو .

کله چی مخکی وویل شو دغه سازمان یو تروریست ، ابراطی او دانسانی له معیاراتو څخه تش یو سازمان دی چی دغه سازمان د مخدره موادو په قاچاق اوترافیک هم لوی لاس لری لنده داچی هر هغه کړنه چی کاملاً غیر مشروع وی ددغه سازمان پواسطه سره د پیسو په بدل کی ترسره کیږي .

------------------------------- په درناوی